# د حمل مخنیوي لګښتونه

تر 22 کلونو عمر پورې، میرمنې د نسخې پربنسټ د حمل مخنیوی سره د روغتیایې معالجې مستحق دي. تر دغه عمره، لګښتونه د روغتیایي بیمې لخوا تادیه کیږي.

تر 22 کلنۍ وروسته، میرمنې باید په خپله د حمل مخنیوي لګښتونه تادیه کړي.

لدې کبله چې لګښتونه کیدای شي ډیر لوړ وي، د کار، ټولنیزو چارو، کورنۍ او **بیایوځای کیدلو اداره په یوې پروژې کې د هامبورګ ټیټې بودجې استوګنو لپاره** د لګښتونو نظر ته اجازه ورکوي.

د لګښت پوښښ غوښتلیک باید دې اداري ته **Familienplanungszentrum e.V.** او دې ته **pro familia Hamburg e.V.**وړاندې شي.

**بیرته تادیه کله امکان لري؟**

بیرته تادیه د هامبورګ د هغو میرمنو لپاره امکان لري چې په سختو اقتصادي او ټولنیزو وضعیتونو کې دي.

تاسې کولای شئ د نسخې پربنسټ (نه کانډوم) لپاره د روغتیایي لګښتونو لپاره غوښتنلیک ورکړئ، که تاسې:

- تاسې د هامبورګ استوګن یاست.
- تاسې 22 کلن یاست یا زیات عمر لرئ او

تاسې لدغو خدماتو څخه یو لاسته راوړئ:

- د بې کارې امتیاز II یا د SGB II (Hartz 4) پربنسټ ټولنیز امتیاز،
- بنسټیز مصؤنیت/د SGB XII پربنسټ د ژوند کولو ملاتړ،
- د پناغوښتونکو امتیازونو قانون (AsylbLG) پربنسټ امتیازونه،
- د مسلکي زده کړې مرستې قانون (BAföG) پربنسټ امتیازونه،
- د استوګنې امتیازونه،
- د کوچنې بشپړونکي یا
- د مسلکي زده کړې امتیاز.

پردې برسیره، که د § 85 SGB XII پربنسټ د هغوی معاش د معاش تر حده ټیټ وي، د لګښت پوښښ امکان لري. پدغه هکله مالومات کیدای شي د مشورې له مرکزونو څخه لاسته راوړل شي.

که تاسې اړتیاوې پوره کړئ، تاسې به د درملتون یا نسایي کارونو لپاره د مشورې له مرکز څخه د بیا تادیې یو تصدیق لاسته راوړئ. تاسې به بیا اړتیا ونه لرئ ترڅو د حمل مخنیوي لپاره خپله پیسې ورکړئ.

**تاسې کومو اسنادونو ته اړتیا لرئ؟**

- ستاسې له نسایي ډاکټر څخه نسخه او کیدای شي د لګښت اټکل (د بیلګې په توګه پورته تلل)،
- د پورتنې تایید شوې ټولنیز امتیازونو نوی مالوماتو لیک یا
- د § 85 SGB XII پربنسټ د ټیټې کچې معاش میرمنو لپاره د معاش او کرایې ثبوت

**تادیه څرنګه ترسره کیږي؟**

1. له خپل نسایي ډاکټر سره لیدنه جوړه کړئ ترڅو یوه نسخه او که امکان ولري یوه بیه لاسته راوړئ.
2. د مشورې له دوو مرکزونو څخه له یوه سره لیدنه جوړه کړئ او پورتنې اسنادونه له ځان سره راوړئ. پاملرنه: په تمه پاتې کیدل امکان لري.
3. د اسنادونو له کتلو وروسته، تاسې به د مشورې له مرکزونو څخه یوه تاییدي لاسته ر اوړئ ترڅو لګښتونه تادیه کړئ.
4. د بیرته تادیې له تاییدي سره تاسې بیرته خپل نسایي ډاکټر یا درملتون ته ځئ او د حمل مخنیوي لاسته راوړئ.
5. ستاسې نسایي ډاکټر یا درملتون د بیرته تادیې تاییدي له بیل سره یوځای په مستقیمه توګه د مشورې مرکز ته لیږي. تاسې اړتیا نه لرئ ترڅو له وړاندې پیسې تادیه کړئ.
6. د مشورې مرکز ستاسې د ډاکټر یا د درملتون بیل تادیه کوي.




### مالومات او غوښتنلیک

د مشورې مرکزونو سره اړیکه پدې پته نیول کیدای شي:

### Familienplanungszentrum e.V.

Bei der Johanniskirche 20
22767 Hamburg
www.familienplanungszentrum.de
ټیلفون: ۰٤۰/٤۳۹۲۸۲۲

د ټیلفون مشورې ساعتونه ترڅو لیدني تنظیم شي:

| | |
|---|---|
| دوشنبې، چهارشنبې، پنج شنبې، جمعه | د سهار له 10 بجو – د ماسپښین تر 1 بجې |
| سه شنبې، پنج شنبې | د مازدیګر له 4 بجو – د ماښام تر 6 بجو |

### pro familia Landesverband Hamburg e.V.

Seewartenstrasse 10, house 1
20459 Hamburg
www.profamilia-hamburg.de
ټیلفون: ۰٤۰/۳۰۹۹۷٤۹۱۰

د ټیلفون مشورې ساعتونه ترڅو لیدني تنظیم شي:

| | |
|---|---|
| دوشنبې، سه شنبې، پنج شنبې | د سهار له 10 بجو – د ماسپښین تر2 بجو |
| چهار شنبې | د مازدیګر له 2 بجو – د ماښام تر 4 بجو |
| جمعه | د سهار له 10 بجو – تر غرمې |

Informationsblatt „Kostenübernahme für Verhütungsmittel“
Herausgeber: Behörde für Arbeit, Soziales, Familie und Integration, Referat für Presse- und Öffentlichkeitsarbeit, Hamburger Straße 47, 22083 Hamburg
Grafik: C. Rothenfluh / Stand: 08/2019 - PASCHTUNISCH